# د پطروس رسول دویم

# خط

## پېژندګلو

حضرت پطروس د خپلې

عقيدې لنډ او آخری ياداشت

جماعتونو ته ليکی چې د هغهٔ د

خط لوستونکی به د خُدائ پاک په

فضل سره داسې ژوند تېروی چې

خُدائ پاک به ترې رضا وی، په

دې دویم خط کښې پطروس رسول

د دې خبرې وضاحت کوی چې د

دروغژنو اُستاذانو سره به څۀ کیږی،

څوک چې د خپل ځان نه د زیری

په حقله دروغ وائی او په دین کښې

بدعت کوی. او پطروس مونږ ته په

دې کِتاب کښې د خپل ځان د

بدلېدو قیصه هم بیانوی چې د هغهٔ

ژوند څنګه بدل شو. پطروس دا

موضوعِ هم تشریح کوی چې د

زیری یوه رښتینی حِصه د دې

دروغژنو تعلیمونو علاج دے. زیرے

د ډېوې په شان په تیاره ځائ کښې

ځلیږی. پطروس په دریم باب کښې

د حضرت عیسیٰ په فاتحانه انداز

کښېنې دوباره راتلل او آخری قضاوت

بیان کړے دے، لکه څنګه چې یو

ځل خُدائ پاک زمکه د اوبو په

وسیله تباه کړه نو یوه ورځ به هغه

خپل اور پرې نازل کړی. نو د دې

راتلونکی واقعاتو د کېدو په مطابق

کوم چې به ضرور راځی او مونږ د

هغهٔ د بیا راتلو او خلاصون په

انتظار یُو د کوم چې هغهٔ مونږ

ایماندارانو سره وعده کړې ده نو بیا

مونږ ته په کار دی چې پاک او

مقدس ژوند تېر کړُو. د حفظ کولو

دپاره ۱ : ۳ آیت ”خُدائ پاک د

خپل الٰهی قُدرت په وسیله مونږ له

هر هغه څۀ راکړل کوم چې د

مقدس ژوندون تېرولو دپاره ضروری

دی. دا هر څۀ مونږ ته د هغۀ د

پیژندګلو په وجه راکړے شوی دی،

یعنې هغه چا چې مونږ د خپل
خاص جلال او نېکۍ په وسیله
راوبللو.“

# دُعا او سلام

١ د شمعون پطروس د طرف
نه چې د عیسیٰ مسیح غلام او
رسول دے، د هغه خلقو په نوم

چې زمونږ د خُدائ پاک او د
خلاصوونکی عیسیٰ مسیح په
صداقت کښې یې زمونږ په شان
قیمتی ایمان موندلے دے. ۲
زمونږ د خُدائ پاک او مالِک
عیسیٰ د پیژندګلو په وجه دې په
تاسو ډیر ډیر فضل او سلامتی وی.

# د ایماندار رابلل او غوره کول

٣ خُدائ پاک د خپل الٰهی قُدرت په وسیله مونږ له هر هغه څۀ راکړل کوم چې د دینداری ژوندون تېرولو دپاره ضروری دی. دا هر څۀ مونږ ته د هغۀ د پیژندګلو په وجه راکړے شوی دی، یعنې هغه چا

چې مونږ د خپل خاص جلال او
نېکۍ په وسيله راوبللو. ۴ او هم د
دې په وسيله هغۀ مونږ سره خپلې
قيمتى او ډېرې لوئې وعدې وکړې،
د دې دپاره چې تاسو د هغۀ په
الاهى فطرت کښې شريک شئ نو
چې تاسو د هغه خرابو کارونو نه
بچ شئ کوم چې د دې دُنيا په وجه
پيدا کيږى. ۵ په دې وجه تاسو

خپل پوره کوشش وکړئ چې په
خپل ایمان کښې نېکی زیاته کړئ،
او په نېکۍ کښې عِلم، ۶ او په
عِلم کښې پرهیزګاری، او په
پرهیزګارۍ کښې صبر، او په صبر
کښې دینداری، ۷ او په دیندارۍ
کښې ورورولی عزیزولی، او په
ورورولۍ او عزیزولۍ کښې مینه زیاته
کړئ. ۸ ځکه کۀ دا خبرې په

تاسو کښېږ وی او زیاتیږی نو دا

تاسو زمونږ د مالِک عیسیٰ مسیح په

پېژندګلو کښې بې‌کاره او بې‌مېوې

کېدو نه بچ کوی. ۹ خو په چا

کښې چې دا خویونه نهٔ وی، نو د

هغهٔ نظر دومره کم دے چې ړندېدو

ته نزدې دے او د خپلو وړومبو

ګناهونو نه پاک کېدل يې هېر کړی

دی. ۱۰ نو په دې وجه اے وروڼو

او خوبندو، د خپلې بلنې او غوره والي د ثابتولو زيات کوښښ کوئ، ځکه کۀ تاسو داسې اخلاق ساتئ نو هيڅکله به تيندک ونۀ خورئ.
١١ په دې طريقه د دې سره به تاسو زمونږ د مالِک او خلاصوونکی عيسیٰ مسيح په ابدی بادشاهئ کښې ډېر په عزت سره داخل کړے شئ.
١٢ په دې وجه به زۀ تاسو ته

همېشه دا خبرې درېادوم، اګر کۀ
تاسو د مخکښې نه د دې نه خبر
يئ او په هغه حق خبرې قائم يئ
چې تاسو ته وئيلے شوې وه. (۱۳) او
ترڅو چې زۀ ژوندے يم، تاسو ته په
درېادولو او پارولو دا خبره په خپل
ځان ضروری ګڼم. (۱۴) ما ته پته ده
چې زما د مرګ وخت رانزدې دے
ځکه چې زمونږ مالِک عيسیٰ مسيح

ما ته ښکاره وئيلی دی. ⑮ او زۀ به خپل پوره کوشش کوم چې زما د مرګ نه پس به تاسو ته همېشه دا خبرې يادې وی.

# د حضرت عيسیٰ مسيح جلال او د نبوت کلام

۱۶ ځکه چې مونږ په هغه
قيصو پسې نه ځو چې په چالاکئ
سره جوړې شوې دی کله چې مونږ
تاسو د خپل مالِک عيسیٰ مسيح د
قدرت او د راتلو په حقله خبر
کړئ، بلکې مونږ د هغهٔ جلال په
خپلو سترګو ليدلے دے. ۱۷ کله
چې هغهٔ ته د خُدائ پلار عزت او
جلال حاصل شو نو ورته د هغه

بهتر جلال نه آواز راغلو چې، ”دا

زما محبوب زوئ دے د چا نه چې

زۀ راضی یم.“ ۱۸ مونږ په خپله دا

آواز د آسمان نه واوریدو، کله چې

مونږ د هغۀ سره په مقدس غرۀ

باندې وُو. ۱۹ نو مونږ سره د نبوت

هغه کلام دے چې ډیر معتبر دے،

دا به تاسو ښۀ وکړئ چې په دې

داسې غور وکړئ لکه چې ډیوه په

یو تیارهٔ ځائ کښې رڼا ورکوی،

ترڅو چې سحر شی او د سبا

ستوری ستاسو په زړونو کښې

وځلیږی. ٢٠ خو د هر څهٔ نه اول

تاسو ته په دې خبره پوهېدل په کار

دی چې د کِتاب مقدس یوه

پیشګوئې هم د نبی خپل سوچ نهٔ

دے. ٢١ ځکه چې یوه پیشګوئې

هم کله د بنی آدم په خپله رضا نهٔ

ده نازله شوې، بلکې بنی آدمو د روحُ القُدس په وجه د خُدائ پاک د طرف نه خبرې کولې.

# دروغژن نبیان او اُستاذان

١ خو څنګه چې په بنی اِسرائیلو کښې د دروغو نبیان

راوچت شوی وُو، هم دغه شان به

په تاسو کښې د دروغو اُستاذان

راوچت شی. هغوئ به په پټه

هلاکوونکی بدعتونه راوباسی او

هغوئ به د هغه مالِک نه اِنکار

وکړی چا چې د هغوئ فدیه ورکړې

ده، او په خپلو ځانونو به زر

هلاکت راولی. ٢ نو بیا ډېر به د

خپلې شهوت پرستۍ په لار روان

شی او د دې اُستاذانو په وجه به د
حق د لارې بدنامی کیږی. ③ او
په خپل لالچ کښې به هغوئ د
دروغو په قیصو ستاسو نه ناجائزه
گټې واخلی. د هغوئ په خلاف د
سزا حکم د ډیر مخکښې نه شوے
دے او د هغوئ تباهی رانزدې ده.
④ نو بیا خُدائ پاک فرښتې پرې
نهٔ ښودې کله چې هغوئ گناه وکړه

بلکې هغوئ يې په دوزخ کښې

واچولې او په تورو تيارو کندو کښې

يې په زنځيرونو وتړلې چې د قيامت

د ورځې پورې به هلته وی. ⑤ نو

بيا هغۀ تېره شوې دُنيا پرې نۀ ښوده

او په بې‌دينه خلقو يې سيلاب

راوستو خو صرف د صداقت پيغمبر

نوح او ورسره يې نور اووۀ کسان بچ

کړل. ⑥ او هغۀ د سدوم او عموره

ښارونه تباه کړل او وې سیزل او ایره

یې کړل، او د راتلونکې زمانې د

بېدینو دپاره یې د عبرت مقام

وګرځولو. ⑦ ځکه هغۀ لوط هم بچ

کړو چې صادق انسان وو کله چې

هغه د بېدینه خلقو د ناپاک چال

چلن نه ډېر تنګ شوے وو. ⑧

هغه یو صادق انسان چې په

هغوئ کښې اوسېدلو هره ورځ د

هغه صادق ژوند د هغوئ د
بې‌شرعې کارونو د لیدلو او اورېدلو
په وجه په عذابېدو. ⑨ نو مالِک
پوهېږی چې څنګه دینداران د
آزمېښت نه بچ کړی او بدکاران د
عدالت تر ورځې پورې په سزا کښې
وساتی، ⑩ خو خاص هغوئ څوک
چې جسمانی ناپاکو خواهشونو
پسې ګرځی او څوک چې د خُدائ

پاک اختیار سپک ګڼی، دوئ
ګستاخه او مغروره دی او په جلالی
هستیانو باندې په بدو وئیلو دوئ نۀ
شرمیږی. ١١ سره د دې چې
فرښتې اګر کۀ په طاقت او په
قُدرت کښې د هغوئ نه لوئې دی،
د مالِک په وړاندې د هغوئ خلاف
د بدرد وئیلو اِلزام نۀ لګوی. ١٢ خو
دا خلق د ځنګلی مخلوق په شان

دی چې بې‌ضمیره دی او د رانیولو

او هلاکولو دپاره پیدا شوی دی. د

کومو خبرو په حقله چې ناخبره

دی، د هغوئ په حقله په نورو بدرد

وائی، هغوئ به د ځنګلی ځناورو په

شان هلاک کړے شی. ۱۳ کوم

نقصان چې هغوئ نورو له ورکړے

دے د هغې سزا به ورته مِلاو شی.

هغوئ ته په رڼا ورځ عیاشی کول

خوند ورکوی، هغوئ بيِعزته او

بيِشرمه دی. هغوئ د خپليِ دوکه

بازیَ نه مزه اخلی کۀ څۀ هم تاسو

سره په يو دسترخوان خوراک

څښناک کوی. (۱۴) هغوئ ښځو ته

د زنا کاریَ په سترګو ګوری او د

ګناه نه نۀ شی اوړيدے، هغوئ

کمزوری خلق راګيروی، د هغوئ

زړونه په حرص آموخته شوی دی،

هغوئ لعنتيان دی. ۱۵ هغوئ نېغه
لاره پرېښبودله، او بې‌لارې شوی دی
او د بعور د زوئ بلعام په لار روان
دی چا چې ناحقه ګټه ښهٔ وګڼله.
۱۶ خو هغه په خپل قصور ملامته
شو چې يوې بې‌ژبې خرې د انسان
په شان خبرې وکړې او نبی يې د
ليونتوب نه منع کړو. ۱۷ دغه د
دروغو اُستاذان لکه اوچ کُوهيان دی

او لکه د داسې وریځې په شان دی

چې سیلۍ یې وړی راوړی، نو د

هغوئ دپاره تک تور ځائ ساتلے

شوے دے. ⑱ ځکه چې هغوئ

د کبر او بېهوده خبرې کوی، او د

شهوت پرستۍ په وسیله هغه خلق په

جسمانی خواهشونو کښې راګېروی

څوک چې لږ څۀ کښې د هغه چا

نه راتښتېدلی دی چې په ګمراهۍ

کښېښي ژوند تېروی. ۱۹ هغوئ د
خلقو سره د آزادئ لوظ کوی خو
هغوئ په خپله د ګمراهئ غلامان
دی، ځکه چې خلق هم د هغه
څۀ غلامان وی د څۀ نه چې
مجبور وی. ۲۰ او چې کله هغوئ
زمونږ د مالِک او خلاصوونکی
عیسیٰ مسیح د پېژندګلو په وسیله د
دُنیا د سخاتوب نه خلاص شول او

هغوئ په کښېبېاکېر شول او د
هغوئ نه مغلوب شول، نو د هغوئ
وروستونړے حال د وړومبنی نه هم ډېر
بد شو. ٢١ نو بیا د هغوئ دپاره به
دا ښهٔ وه چې چرې هم هغوئ د
صداقت لار پېژندلے نهٔ وے هسې
نه چې د پېژندلو نه وروستو یې هغه
حُکم رد کړی کوم چې ورته د
صادقه ژوند تېرولو دپاره ورکړے

شوے وو. ۲۲ او په هغوئ دا متل

ثابتيږی چې، "سپے د خپل قی په

طرف راګرځی،" او "خنزير د لامبلو

نه وروستو بيا په ختو کښې رغړی."

# د مالِک د راتلو لوظ

۱ ګرانو دوستانو، دا زما دويم

خط دے چې تاسو ته يې ليکم. په

دوارو کښېي زهٔ ستاسو صفا زړونه
راپاروم او درته يادګيرنه کوم. ۲ زهٔ
غواړم چې تاسو هغه پيشګوياني
رايادې کړئ چې پاکو نبيانو
مخکښې کړی دی او د مالِک او
خلاصوونکی هغه حُکم ياد ساتئ
چې تاسو ته ستاسو د رسولانو په
وسيله درکړے شوے دے. ۳ تاسو
ته د ټولو نه اول په دې ځان پوهول

په کار دی چې په آخرو ورځو

کښې به داسې ټوقماران راشی چې

مسخرې به کوی او د خپلو

خواهشاتو په مطابق به چلیږی. ۴

او وائی به چې، ”د هغۀ د راتلو

وعده څۀ شوه؟ ځکه چې د کله نه

چې زمونږ پلار نیکۀ مړۀ شوی دی

د هغه وخت نه تر اوسه پورې هر

څۀ هم هغه شان دی لکه چې د

مخلوق د شروع نه وُو.“ ۵ هغوئ

خو قصداً دا حقيقت هېروی چې د

خُدائ پاک د کلام په وسيله

آسمانونه د ډېر پخوا نه پيدا شوی

دی، او زمکه د اوبو نه جوړه ده او

د اوبو په وسيله پيدا شوې ده. ۶

نو بيا هم د دغه اوبو په وسيله د

هغه تېر وخت دُنيا غرقه او هلاکه

شوه. ۷ خو په هم هغه کلام کوم

آسمانونه او زمکه چې اوس موجود دی د کلام په وسیله په اور کښې د سوزولو دپاره وساتلے شول، او دا به د بېدینه خلقو د عدالت او هلاکت تر ورځې پورې محفوظ وساتلے شی. ۸ خو زما ملګرو، دا حقیقت دې ستاسو نه هېر نهٔ شی چې د مالِک په نزد یوه ورځ د زرو کالو برابره ده او زر کاله د یوې

ورځې برابر دی. ⑨ مالِک په خپل
لوظ کښې سستی نۀ کوی لکه
چې بعضې خلقو ته سستی ښکاری
بلکې هغه ستاسو په حقله صبر
کوی، او هغه غواړی چې څوک هم
هلاک نۀ شی بلکې چې ټول توبه
وباسی. ⑩ خو د مالِک خُدائ د
قیامت ورځ به لکه د غل په شان
راشی، او په هغه ورځ به آسمانونه

ډېر په ګړبړ د نظر نه پناه شی،
یعني ستوری سیارې به د اور په
سخت تاو سره ویلی شی، او زمکه
او په هغې د بنی آدمو ټول شوی
کارونه به ښکاره شی. ⑪ نو څنګه
چې ټول څیزونه په دې طریقه هم
ویلی کېدونکی دی نو بیا تاسو ته
په پاک چال چلن او په دینداری
کښې څنګه ژوند کول په کار دی؟

۱۲ تاسو د خُدائ پاک د هغه
ورځې د راتلو اِنتظار کوئ چې هغه
زر راشی چې د کومې په وجه به
آسمانونه په اور کښې وسوزی او
برباد به شی، او ستوری او سیارې
به د اور د تاو نه ویلی شی. ۱۳ خو
د هغۀ د لوظ په مطابق مونږ د نوؤ
آسمانونو او نوې دُنیا اِنتظار کوُو
چې د صداقت نه ډکه وی. ۱۴ په

دې وجه زما ګرانو دوستانو، کله

چې تاسو د دې خبرو په اِنتظار

کښې يئ نو کوشش کوئ چې کله

د هغهٔ سره مخامخ کيږئ نو چې د

سلامتىِ په حالت کښې بېداغه او

بېعيبه يئ. ۱۵ او تاسو زمونږ د

مالِک صبر لکه د خلاصون وګڼئ

نو دغسې زمونږ خوږ ورور پولوس هم

د خپل ورکړے شوى حِکمت په

مطابق درته وليکل، (۱۶) او په خپلو
ټولو خطونو کښي يې دا خبرې
ليکلی دی. په هغوئ کښي ځيني
خبرې داسي دی چي پرې پوهېدل
ګران دی، او جاهلان او سپک
خلق د دې معنیٰ بدلوی لکه څنګه
چي هغوئ د نورو صحيفو معنیٰ
بدلوی او د ځانونو دپاره هلاکت
پيدا کوی. (۱۷) زما ګرانو دوستانو،

ځنګه چې تاسو د اول نه خبر يئ،
نو بېدار اوسئ چې د بې‌دينو خلقو
په غلطيانو سره بې‌لارې نۀ شئ، او
خپل مضبوطوالے پرې نۀ ږدئ. ١٨
بلکې زمونږ د مالِک او
خلاصوونکی عيسىٰ مسيح په فضل
او عِلم کښې ترقي وکړئ. د هغۀ
جلال دې اوس هم وی او تل تر تله
دې وی. آمين.